# دVAWA  HUDپه استوګنځای کې

د HUDد استوګنې په پروګرامونو کې د شاملو اوسېدونکو لپاره، د 2016 د  VAWAقانون د خوندیتوب دې اصلي ورکوي:

- له ایسټلو څخه منع کول، له کورنۍ تاوتریخوالي څخه د ژغورل شوي شخص په توګه د اجاره ور کوونکي د حالت له امله د استوګنځای د خدمت پایته رسول یا له هغې څخه انکار کول
- د اجارې د ویش او د اجارې له ځای څخه د تاوتریخوالي د ترسره کوونکي ایستل له ژغورل شویو کسانو او د کورنۍ له نورو غړو سره مرسته کوي چې پاتې شي
- د ژغورل شویو کسانو او اجاره ور کوونکو محرمیت ساتي

همداراز د 2016 کال د  VAWAوروستي قانون لاندې موارد اضافه کړي دي:

- (صمیمي ملګری) د کورنۍ تاوتریخوالي په تعریف کې په شرایطو د برابرو اړیکو په لېست کې
- (جنسي تیری) تر پوښښ لاندې نیول
- د  VAWAتر چتر لاندې د تصرف د حقونو خبرتیا" - هغه فورمه چې د استوګنځای یو شمېر وړاندې کوونکي یې باید متقاضیانو، اجاره کوونکو او هغه کسانو ته وړاندې کړي چې د ایستل کېدو له خطر سره مخ دي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې له خپلو حقونو څخه خبر دي
- بېړني لېږد د پلان یو ډول د لېږد د غوښتنې له فورمې سره
- پخپله د تاییدۍ ورکولو فورمه (لړ خندونه) د کورنۍ تاوتریخوالي، د لیدنې د وخت د تاوتریخوالي او جنسي تیري د پېښو د مستند کولو لپاره ده

**د  HUDسرچینې:**
https://www.whitehouse.gov/briefing-room/statements-releases/2022/03/16/fact-sheet-reauthorization-of-the-violence-against-women-act-vawa/

که چېرې ستاسو د استوګنځای حقونه د نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، **جنسیت**، معلولیت، کورنۍ حالت، مدني حالت، **جنسي تمایل، جنسیتي هویت**، د تقاعد شوي سرتیري/وسلوالو ځواکونو کې د شمولیت د حالت، عقیدې، د کډوالۍ یا تابعیت د حالت له امله تر پښو لاندې شوي وي، نو په دې صورت کې اړیکه ونیسئ:

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE
"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

35 West Main Avenue, Suite 250
Spokane, WA 99201
Ph 509-325-2665
1-800-200-FAIR (3247)
فکس 6308-376-866-1
www.nwfairhouse.org

Sex Discrimination In Housing
www.sexdiscriminationinhousing.org

هغه کار چې د دې خپرونې د خپرېدو لپاره یې زمینه برابره کړې ه تر یوې کچې پورې د متحده آیالاتو د کور جوړو او ښاري پراختیا وزارت  (HUD)خارنې او مالي مرستې په واسطه یې ملاتړ ترسره شوی دی.
NWFHAپه دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او په هغې کې د شاملو تفسیرونو د کره والي مسوولیت لري.

**Pashhto**

- پښتو– 8/2022

# عادلانه استوګنځای او
# له کورنۍ تاوتریخوالي څخه ژغورل شوي



IF YOU'RE DENIED A RENTAL BECAUSE YOU'RE A FEMALE SURVIVOR OF DOMESTIC VIOLENCE, IT'S NOT ALWAYS THIS OBVIOUS.

CONTACT YOUR LOCAL FAIR HOUSING AGENCY TO HELP YOU READ BETWEEN THE LINES.

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE
"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

1-800-200-FAIR (3247)
www.sexdiscriminationinhousing.org

## د عادلانه استوګنځای قانون

### د جنسي تبعیض پر وړاندې خوندیتوبونه

د عادلانه استوګنځای قانون **(FHA)** په 1968 کال کې د نژاد، رنګ، ملي اصل او مذهب پر بنسټ د خلکو پر وړاندې د استوګنځای په برخه کې د تبعیض څخه د ساتنې په موخه تصویب شوی دی. په 1974 کال کې کنګرې د **(جنسیت)** پر بنسټ یو شمېر ملاتړونه اضافه کړل او په 1988 کال کې معلولیت او کورنۍ حالت (په کورنۍ کې ماشومان) پکې اضافه شو.

د وخت په تېرېدو سره، دا قانون د محکمو او **HUD** لخوا تفسیر شو تر څو مشخص کړي چې د **(جنسیت پر بنسټ تبعیض)** بېلابېل شکلونه لري چې په هغې کې **جنسي ځورونه** او **جنسیتي ځانګړتیاوو** او **د کورنۍ تاوتریخوالي څخه د ژغورل شویو کسانو څخه ساتنه** ترسره کول شامل دي.

**متفاوت اغیز هغه** وخت رامنځته کیږي کله چې یوه پالیسي، تګلاره یا عمل چې په ظاهري توګه د استوګنې په برخه کې عادي ښکاري، په نامتناسب ډول په یوه خوندي شوې ډله (جنسیت) باندې اغیز وکړي. حتی هغه وخت کله چې په دوامداره ډول پلی کیږي، ښځې په نامتناسب ډول د دې پالیسو تر اغیز لاندې راځي، ځکه دوی 86.6%) د کورني تاوتریخوالي موخه دي.

د عادلانه استوګنځای اړوند موارد د (صفر زغم) د پالیسیو په چوکاټ کې ډیری وخت له بېلابېلو اغیزو سره رامنځته کیږي.

**د بیلګې** په ډول، کله چې د کور یو څښتن د کورني تاوتریخوالي د یوه ترسره کوونکي له امله ټوله کورنۍ وباسي، په دې صورت کې د تاوتریخوالي موخه (چې د ارقامو پر بنسټ د دوی ډیری ښځې دي) هم ایستل کیږي.

د **جنسیتي ځانګړنو** پر بنسټ د ښځو پر وړاندې هم غیر قانوني ګڼل کیږي.

**د بیلګې** په ډول، له کورنۍ تاوتریخوالي څخه یوې ژغورل شوې د اجارې متقاضي ښځې ته د کور څښتن وایي، چې هیڅ ښځې ته چې د کورني تاوتریخوالي مخینه لري اجاره نه روکوي، ځکه دوی تل هغو نارینه وو ته بیرته ورځي چې له دوی څخه یې ناوړه ګټه اخیستې ده.

# په استوګنځای کې د HUD د VAWA



## د 2016 کال د HUD وروستی اصل:

### د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی

*د 2013 کال د بیا ځلي اجازې ورکولو* ***قانون*** *(VAWA):*
*د HUD د استوګنځای په پروګرامونو کې پلي کول.*

دې قانون، تقریباً د HUD د استوګنځای په ټولو پروګرامونو کې له عمومي او 8 برخې له پروګرامونو څخه هخوا قانوني ملاتړونو ته پراختیا ورکړې ده.

وروستی قانون د کورني تاوتریخوالي <u>**د ټولو**</u> قربانیانو، د لیدنو پر مهال تاوتریخوالی، جنسي تیري او هغه ځای چې متقاضي **پکې مېشت وي، د HUD په همکارۍ سره ملاتړونه او پرمختللي خوندیتوبونه برابروي - د هغو پروګرامونو په ګډون چې د** HUD لخوا یې ملاتړ کیږي، چې په هغې اجاره نشته ده، لنډ مهاله استوګنځای او خوندي ځایونه پکې وړاندې کیږي.

- **جنسیت، جنسیتي هویت یا جنسیتي تمایل ته له پام پرته** د قربانیانو لپاره خوندیتوب واقعي او په ښه ډول درک شوی دی.
- د HUD د استوګنځای د پروګرامونو متقاضیان نشي کولای د شمولیت یا مرستې له منلو څخه انکار وکړي، ځکه دوی له وړاندې قرباني و یا قرباني شوي وو.
- اوسني اجاره کوونکي نشو کولای د قرباني والي یا کېدو له امله له مرستې څخه محروم کړو، لغوه یې کړو یا یې وباسو.

له دې اصل سره، هغه شخص چې له کورني تاوتریخوالي څخه د ژغورل کېدو حالت لري یا د نږدې شریک لخوا تاوتریخوالی تجربه کوي، اړ نه دی چې د خوندیتوب او خپل کور ترمنځ یو مورد انتخاب کړي.

:Key housing provisions VAWA 2013
https://portal.hud.gov/hudportal/documents/huddoc?id=FctShtKyHsgProvVAWA2013.pdf

:VAWA in HUD housing Final Rule, 2016
www.federalregister.gov/documents/2016/11/16/2016-25888/violence-against-women-reauthorization-act-of-2013-implementation-in-hud-housing-programs

د VAWA فورمې د څو کورنیو د استوګنځای د دفتر لخوا خپرې شوې دي:
http://nlihc.org/article/vawa-forms-